**AFGHAN GERMAN ONLINE**
http://www.afghan-german.de
http://www.afghan-german.com

---

پوهنمل حاجی محمد نوزادی، دنمارک

# پرمختللي اروپا، نوی تکنالوژی اوانسان خوړل

دوړوکتوب نه می اروېدلې وه چی فلانی طائفه خلګ قبرستان او ادیره نلری. ددی خبری نه مانا دا وه چی دوی خپل مړه خپلوان نه ښخوی او خوری ئی. ولی هیڅکله هم هیچا دانه وه لیدلې چی دوی دی دغه کارترسره کړی وی.
شاید مشرانو به پدی خاطر داسی ویل چی موږ ماشومان پری و ډاروی اوراته ویل به ئی که داکار وکړی اویا هغه کار ونکړې نو دوی راځی اوتاسی به وخوری . خو داچی زموږ به خپله غوښه په چا نه وه پیرزو، نوبه مو دمشرانو په اشاره کارکاوه.
دهغه وخت راهیسی ډیر کلونه تیر شوه ، دتقدیر ناخوالو دهغه وروسته پاته ټاټوبی نه را لیری او په پرمختللې اروپا کښی میشت کړم. دلته چی دماشومانو دډارولو دپاره بلاګانی نشته، نودسړی خوړونکو انسانانو په هکله خو می فکرهم کولای نشو. دهری ورځی په تیریدوسره دتکنالوژی چټکه وده دلیدلو اولمسولو وړ ده . سترګی می لانه وی پرانیسی، دادي ۲۱ پیړۍ ته ورننوتو.
هغو کسانو چی کمپیوتر ته وده ورکول اوهغوی چی داتکنالوژی دانترنیټ تر کچی لوړه کړه، هیڅوقت ئی دا تصور هم کولای نشوچی انترنیټ به کله هم انسان خوړونکو ته د رزق سوری پرانیزی . دادی اخر همداسی وشوه :
د۲۰۰۱ کال دمارچ میاشت وه چی دپسرلې ژوند زیږونکو وږمو په هر څه کښی نوي ساه پوکول، وابنه خوړونکو ژوو ته څمکی رزق زیږاوه اوغوښه خوړونکی ژوې دښکار په هیله دژمی له درانده خوبه راپاڅیدل، خو دپرمختللې اروپا په زړه دجرمنې په هیواد کښی دیوه کا نیبا لیست دکلونو کلونو ارزو هم ترسره او دلوړی تکنالوژې په مرسته ئی رزق کورته راغی ، په خپلو لاسونو ئی دروزه ور وټکول. سر چی دشا ل لایق وی، له کشمیره ورته راځی.
کانیبالیزم Kannibalisme په قاموسونو کښی داسی تعریف شویدی :
کانیبالیزم د Caraib قوم دنامه څخه چی په هسپانیوي ژبی کی ئی د Cannibal پشکل تغیر موندلې دی ، ریښی اخلی او دیوه انسان لخوا دبل انسان دخوړلو په مانا کارول کیږی . لدی نه پرته دهغو نادرو حیواناتو په هکله هم ددغی اصطلاح څخه کاراخلی، کوم چی دخپل نوع دخوړلوسره عادت لری. دنوموړې اصطلاح مترادف یونانی کلمه انتروپوجی Antropogy ده.
پدی توګه نو کانیبالیست (ادمخور) هغه چاته ویل کیږی چی دانسان غوښی خوری. حتی ډیرغوښی خوړونکی څناوران شته چی ترڅو دلوږی نه دمرګ پولې ته نژدی نشی پر انسانانو باندی حمله نه کوی او ددوی غوښی خوړلو ته زړه نه ښه کوی.
دهمهغه ۲۰۰۱ کال دپسرلې لومړی میاشت وه، په رسنیو کی می ولوستل چی په جرمنې کښی د Armin Meiwes پنامه یوسړی دیوه بل نفر دخوړلو په تور نیول شوی اوترپوښتنو ګرویږنو لاندی دی. پدی کار کښی دده سره لوړې پرمختلې تکنالوژی مرسته کړیوه. ترهغه ځایه چی له رسنیو څخه د پیښی جریان رایاد دی ، قصه داسی وه :
پرنوموړی سړیخورباندی دانسان خوړلو اشتها غلبه وکړه نوئی ولوړې تکنالوژې ته دمرستی پخاطر لاس اوږد اوپدی هکله ئی دانترنیټ دلاری یو اعلان خپورکړ چی دی غواړی یو انسان وخوری، نو هرڅوک چی دی کار ته په خپله خوښه غاړه ایږدی، کولای شی دده سره په ټاکلې ادرس اړیکې ونیسی .
څه موده وروسته د Jurgen Brandes Brend پنامه یو داوطلب پیداسو، ترضروری تماس او پوهاوی وروسته ئی دخپل کار دځای نه ددرو ورځو دپاره رخصت واخیست او بیله دی نه چی څوک خبر کړی دسړیخور کورته راغی اوپه خبرو کی کوربه ورته وویل چی عزم ئی جدی دی خو دده له موافقی پرته به داکار ونکړی. که چیری نه غواړی ، کولای شی بیرته ولاړ شی . میلمه هم خپل فوافقه په جدی توګه ورته اعلان کړه او دواړه پر دی خبره یوه خوله شول چی کوربه به میلمه خوری. کوربه لازم وګڼل چی لومړی باید دمیلمه دبدن دغوښو خوند وګوری . پدی موخه ئي دمیلمه تناسلی اله وټاکل او په ډیر احتیاط سره ئی دچړی پواسطه ورڅخه پری کړه. لمړۍ ئی زخمی شوی ځای په ډیره مهربانی سره اپانسمان کړ، بیا ئی نوموړې غوښه په کړایي کی کباب، دواړو یعني کوربه او میلمه په ګډه وخوړ او مزه ئی خورا خوښه شوه. دادی اجل نیولې میلمه ئی حلال، غوښی ئی ټوټه ټوټه اوپه یخچال کښی ځای پرځای کړی ترڅودضرورت پروخت څناوره اشتها پری ماته کړی. د داوطلب دراتلو څخه نیولې بیا دکار ترپایه پوری ئی ټول جریان په ویدویی کامره کښی ثبت کړ. پدی توګه Brandes لادرکه، خپلوانو ئی پولیسوته خبر وکړ او هغوی ئی په لټولو ونه توانیدل .

---

کله چې د کانیبالیست ذ خیره په خلاصیدو شوه، په انترنیت کښی ئی بیا ورته اعلان خپور کړ. ددی اعلان وروسته پولیسوته څه شک پیدا شو، کورته ئی راغلل اوهلته ئی دخوړل شوی میلمه پاته شونی پیدا کړه. کوربه ئی ترپوښتنو لاندی ونیو، هغه هم دانکارضرورت ونه لید، هرڅه ئی ومنل او دخپلی بیګناهی د ثبوت دپاره ئی ویدویی فلم وړاندی کړ. دجرمنی هیواد په جزایی قانون کښی دیوه چا دپاره چې یو څوک دهغه په خوښه یا غوښتنه ووژنی، د پنځه کاله بند جزا ټاکل شویده، مګر دکا نیبا لیزم په هکله کومه یادونه نشته یعنی داچې انسان خوړونکي ته به څه ډول جزا ورکول کیږی، کومه ماده یا فقره جود نلری . خو دخلګو غوښتنه داوه چې داډول خطرناک انسانان باید ټول عمر په بند کی وساتل شی .

ایا انسان او خوګ یوله بله سره ورته والی لری ؟

له پخوانه می په کتابونو کی لوستی وه چې طبی څیړونکی مخکی لدی نه چې د درملنی یو متود پرانسانانو باندی عملي کړی ډیر وختونه ئي له هر څه نه وړاندی پر خوګانو باندی ازمویی. داځکه، سره له دي چې په خوګانو کی سړیتوب نشته اوانسانیت هم نه پیژنې، خو دبدن د ځینوغړو دفعالیت څرنګوالی ئی دانسانانو سره تریوی ټاکلې کچي پوری دنورو حیواناتو په پرتله نژدیوالی لری.

دناطق حیوان سره ددغه کرغیړن ژوی یوبل ورته والی څو ورځی وړاندی دجرمنې سړی خوړونکی کانیبالیست په ګوته کړ، کوم چې اوس د(۱۵ کالو ) په بند محکوم دی. هغه پخپلی لومړنی تلویزیونی مرکی کښی وویل چې دانسان دغوښو خوند کټ مټ دخوګ دغوښو خوند ته ورته دی. دی چې ځان یو بیخي نورما ل سړی بولی، وایی چې ما د Brandes غوښي په مالګی کی اخته کولی او دمرچو، هوږی، نورو مصالح جاتو، پټاټو یا ګلفی سره یوځای دشنو مرچو په لهاب کي پخولې اوپه ډیره مزه می خوړلې. دده په نظر داغوښی یو څه سختوالی لری. دی څرګندوی چې ټول عمر دیوه کشر وررور د درلودلو هیله من وو او د Brandes په خوړلو سره ئی دهغه په کله وروړګلوی ته ورته یوډول اړیکی ورسره حسولې .نوموړی داخبره غلطه بولې چې ګویا دانسان دغوښو خوند دچرګ دغوښو پشان دی او زیاتوی چې دا غوښه دلړ غوندی تندوالې سره سره بالکل د خوګ دغوښو خوند لری اوخورا خوندوره غوښه ئی ده.

داسلام په سپیڅلی دین کښی انسان ته تر ټولو نورو حیواناتو په لوړ نظر یعني داشرف المخوقات په سترګه کتل شوی اوخوګ تر ټولو نورو حیواناتو په سپک نامه یعنی دډیر کرغیړن او نجس حیوان پنامه یاد شویدې . مګر بیاهم په یوه ځای کښی ددغه زیات تفاوت له مخی دوي دواړه ( انسان اوخوګ ) په یوه ډله کي راغلې دی اوهغه دادې : داسلامی احکامو پربنسټ دهر حیوان پرپوست ( څرمن ) باندي که ئی غوښه حلاله وی یا مرداره ، لمونځ کول روا دی ، خو دخوګ او انسان څرمن لدی امره مستثنی ګڼل شویده چي لمونځ کول وربانډی جواز نلری. البته انسان د شرافت له کبله او خوګ دنجاست له کبله پدغه استثني کی داخلیږی کومه چې دوه متضاد قطبونه سره یوځای کوی.

په مسیحی نړیَ کښی داچې خوګ تل چاغ اوپه غوښو بار دی، دشتمنیَ سمبول ګڼل کیږی او هر څوک کوښښ کوی یوه وړه مجسمه ئی دنیکفالي پخاطر په کور کي ولری. مګر بیاهم کله چې انسان کوم ناوړه کار وکړی نو خوګ ورته وایی او دانسان چټل کاری هم د خوګ ګڼی پنامه یادوی. عیسویان داهم وایی چې دخوګ غوښه دبل هرحیوان تر غوښی زیاته خوندوره ده او په پاي کښی جرمنی سړی خوړونکی هم دادي دغوښو دخوند له مخی دانسان اوخوګ ترمنځ دمساوی علامه وکښل.

انسان خوړنې ته یوه تاریخي کتنه :

دانسان غوښی خوړل په زرګونوکاله د میلاد نه وړاندی دانسانی ټولنی په ډیرو ابتدایی وختونو کی یعنی هغه وخت چې لا انسانان تازه دکرهنی سره بلد شوی وه ، لید ل شویدی. داپدیده په مختلفو شکلونو دټولنیزی ودی په راز راز دورو او په ټوله نړیَ کښی ثبت شویده. ددغي کړنې بنسټیز لاملونه تغذیوی مجبورتیاوی، دخلګو ځینی دودیز سنتونه، روحی ناروغتیاوی او داسی نور ښودل شویدی. دتیری پیړیَ په شلمو کلوو کښی هم دوه تنه جرمنیان ونیول شول چې دوی هریوه په ځانګړی توګه دکلونو په موده انسانان وژل او غوښی ئی د ساسیج، کوفتی اوپه نورو ډولونو چې دخلګو شکونه را ونه پاروی، خرڅولې. دټولنې په تاریخ کښی ځینی اضطراری حالاتو اوځانګړو اړتیاوو هم دکانیبالیزم په پدیده کښی رول لوبولې دی. دبیلګی په توګه ددوهمی نړیوالی جګړی پروخت دجرمنی فا شییزم لخوا داشغال شوی لینینګراد دجنګی اسیرانو په ډله ایزو لاګیرونو کښی چې بندیان له لوږی نه ترمرګه رسیدلې وه، دمړو دخوړلو پیښی ولیدلي شوی. په سوماترا کښی داسی پیښی هم ثبتی شویدی چې مجرماني ګناهکاری ښځی به ئی پداسی یوه جزا محکومولې چې باید وخوړلې شی. په ځینو توکمونو کښی داسی دودونه هم تیرشوی چې له مخی به ئی دهغو کسانو مړې خوړل، کوموته چې ئی ډیر درناوی کاوه او دائی د هغوی دښخولو ډیر دروند ډول ګڼه. داخلګ دهندوانو ځینی قومونه وه چې لومړیَ به دهغه محترم شخص مړیَ په اورکی سوځاوه او وروسته به ئی دهغه پاتي شوی ایری دنوموړی کورنې په خوړو کښی ګډولی او خوړلې به ئی . دوی عقیده درلوده چې پدی توګه کولاي شی دهغه مړه شوی نفر روحی قوت او ښیګڼی

په ځانوکی وساتی. ځینوخلګو بیا داسی هم کړی چی دخپل ډیر سخت دښمن غوښی ئی پدی خاطر خوړلي دی چی دانتقام تنده پری ماته اوزړه په سوړ کړی.

د کانیبالیزم نښی نښاني دیوه عادت په توګه اوس یوازی دنړی په هغو سیمو کی ترسترګو کیدلای شی چی صعب العبور او رسیدل ورته ډیرګران کار دی، دبیلګی په توګه د New Guinea ځینی لیری پراته ګوټونه. هلته دنوموړوسیمو اوسیدونکی داچی د انسانو دغوښی خوړلو سره عادت لری د Kuru پنامه یوی ناروغی باندی اخته کیږی. د دی ناروغي نښانی دبدن دغړو ریږدیدل دی او ټاکل شویده چي داناروغی دمړو انسانانو دمغزونو دخوړلو له کبله منځته راځی.

دمرکزی افریکا پخوانی دماغی ناروغ مشر Bokassa ، کوم چی دیوي خونړی کودتا په ترڅ کی واک ته ورسیدی اوپخپلو لاسونوئی دماشومانو دوژلو سره مینه درلوده، او وروسته دعاج په ساحل کی پناه غوښتونکی شو، هم دانسان خوړلو تورونه وربادی لګول شویدی.

په سیاست کی داډول اصطلاح ګانی دپوهیدلو وړدی لکه ( وینه زبیښونکي استثمار) یا ( نړیخور استعمار ) او داسی نورو څخه مراد ځرګند دی چی پدی کی دعمل مستقیم فزیکی اړخ دبحث وړ خبره نده. مګر دپرمختللي اروپا یی ټولني دلوړو زده کړو لرونکي Armin Meiwes خو وایی چی دی یو بیخی نورمال سړی دی. که چیری داخبره سمه وی نودلته چی نه لوړه شته، نه دودیز سنتی خیالونه نوبیا ځله انسانان یو بل په فزیکی ډول خوری ؟ ولی دا لوړه تکنالوژي دومره ناتوانه ده چی دیجیتال سیستم ئی لاهم په خپله محافظوی غیره کی د جنایتونو دمخنیوی اوخبر ورکولو وس نلری ؟

پای